ولی محمد نورزی ۲۰۱۲/۰۴/۲۷

# دری تیر لسیزی او د افغانانو ستونځی اوشخړي

## « د چنګاښ (سرطان) او ثور(وری) فوځي پاڅون په هکله»

لنډی خبری اتری او تیری دیرش کلنې خاطری او څیری

کوم وخت چه د افغانستان دشاهی نظام په منځ کې دکورنیو غږود نا خوالواو شخصي شخړو له امله سیاسې بدلون را منځ ته شو، او د چنګاښ کودتاه د ظاهر شاهی سلطنت ورو ستې ستني له بیخه او ریښي وکښلي. نوهغه وخت هیچاه دا سوچ او تصورنه درلودې چه ګوندی د افغانانو د بدبختي، بی اتفاقې، بیغوري او بی وزلې وختو نه به پیل شي.

دغوایی کودتا چه هیچا یی انتظارنه درلودي د افغانستان دغه کړکیچن حالت یي نورهم یوه په دوه کړي او په لوی نا تار او کړاوونو یی بدل کړي. اسلامی بنسټ پال چه د سردار داؤد پرنظام یی هیڅ باورنه درلودې او څوځله یی د نوی جمهوری نظام پرضد د بغاوت او جګړو لاره خپله کړی وه آرام نه کښینستل. دغه بنسټ پاله ډله د سردار داؤد د رژیم پرخلاف را پورته شول، ولی ډیر ژرد نوی رژیم لخواه سخت وځپول شول او په منډو منډو ګاونډې هیواد پاکستان ته وتیښتیدل. پاکستان چه لا وختي د داؤد د نوی حکومت پرضد وو. ډیر ژریی هغو ورغلو مرورو اسلامی بنسټ پالوته هرکلي ووایي او په ډیرعزت یي ټوله هلته یی میشت او استوګن کړل او دنظامی مرستو وعدي ورسره وشوی.
د سردار داؤد نوی رژیم دده دځینو ملګرو اود خلق ددیموکراتیک ګوند دغړوپه مرسته منځ ته راغلي. سردارداؤد ددولت په حکومتي چوکاټ کي د افغانستان د خلق ددیموکراتیک ګوندغړوته د وزارت تر کچي پوری لوړ مقامونه ورکړل او هغوی یي په خپله کابینئه کي ورګډ کړل، ولی داؤد خان ډیرژرد خپلو محا فظه کارانو مشاورینو لخواه و دي ته چمتو شو چه کرار کرار خپل ځان د خلق د دیموکراتیک ګوند د غړو د ملاتړ څخه لیری کړی.په ډیره لنډه موده کي داؤد خان د خلق ددیموکراتیک ګوند غړي له کا بینې څخه وشړل او ځان یی خپلواک او یو سری قهرمان اعلان کړی. که څه هم د افغانستان په ملی اردوکي د افغانستان د خلق ددیموکراتیک ګوند غړوډیر مهم او اغیزمن رول درلودي، ولی داؤد خان نورددوي کمک او مرستي ته اړتیا نه درلودله .سرداؤد خان د خپل جمهوریت په دوره کي لویه جرګه دایره کړه اود افغانستان اساسی قانون یی هم جوړکړی.ددولت په خصوصی، اقتصادی اومدنی سکتورونوکی هم ډیرتغیرراغلي اوډیر قانونونه جوړاو دعدلیه وزارت لخواه توضیح او توشیح شول.داؤدخان چه نوریی د خلق ددیموکراتیک ګوند سره د ملګریتوب اړیکی ښکولي وی اوغوښتل یی چه دوي دسیاسې له ډګر څخه هم وباسي. او خپل ځان په خپله حما یه کړي.
په ۱۳۵۷ لمریز کال دثور(وری) د میاشتی په پیل کي د خلق د دیموکراتیک ګوند یو لوړ پوری غړي میراکبرخیبر په سپینه رڼاورځ په کابل کي ترورشو او دهغه دښخولو په مراسموکي د خلق دیموکراتیک ګوند ډیرو غړو لکه نور محمد ترکی او ببرک کارمل په ګډون د رهبری ټولوغړو ګډون وکړي اود هغه دناڅاپه ترورراو وژل یی ډیر سخت وغاندي.دوي درژیم د چاروا کو څخه وغوښتل چه ډیر ژردمیر اکبر خیبر وژنکي پر کسان پیداکړي.ولی داؤد خان ددي موقع څخه ګټه واخیستله او دګوند درهبری ټوله کمیټه یی د جیل او زندان ترلو کوټو ته واچول او دڅیړني او تحقیق لړی هم ډیر ژر پیل شوه.
لکه څنګه چی مي مخکي وویل د افغانستان په ملی اردو کي د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند ډیر غړی روزل شوی وو. او هغوي هم ډیر ژر دخپلو رهبرانو د آزادولو او خلاصولو په موخه یو منظم پاڅون ته ځان چمتو کړي او په ډیر لنډ وخت کی یی د سردارداؤد خان نوي جمهوری نظام ړنګ کړي او ددولت ټولي چاری یی په لاس کي واخیستلي.دوي خپل زنداني رهبران بندیان را خوښی کړل.ددوو دری ورځو په موده کي دواکمن ګوند انقلابی شورا جوړه شوه او د زاړه رژیم ټول چارواکي یی بندیان کړل.
د افغانستان د خلق د دیموکراتیک ګوند فوځې غړو د پاڅون(انقلاب) تر نامه لاندی د انقلابی خوځښت لړی پخپله پیل کړه او دي پاڅون ته یی(د ثور د انقلاب نوم ورکړی) نوی رژیم دنظامې، اجرائیوی مقنني قواوو او د سیاسی نظام د جوړښت ټول مسئولیت په غاړه واخیستي. انقلابی شورا ډیر ژر بیړنۍ فرمانونه صادرکړه. نوی دولت د حکومت په تشکیلاتی چارو او بستو کي خپل ګوندی چارواکي وګومارل. دغه نوی چارواکي ددولت په چاروکي کاری تجربی نه درلودلي .په دی هکله هیواداوخلک دیرژر ددولتی او حکومتی کارخانی په رسمي چاروکي د ډیرو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ستونځو او کړاوونو سره مخامخ شول. ډیر ګوندی ښوونکي والیان رئیسان اوو زیران شول او زاړه مامورین نوریا له کاره وغورځول شول او یا هم دخپل بست په ټیټو بستو کی مقرر شول.

دولتی او حکومتی اداری د پخوانۍ نظام د غړوڅخه خلاصی شوي او پرځای یي نوی تازه کارو بی تجربی ځوانانو دنوی نظام د اعتبار وړمامورینو ځای ونیوي. انقلابی فرمانونو د افغانستان د تاریخی نظام او اسلامی عقیدوي جوړښت اساس د ټکر سره مخا مخ کړي. داووم او اتم لمبر فرمانونو د افغانستان د اسلامی جوړښت او ساختمان پرضد یو ناوړی ګام وبلل شو. دهیواد مخوراوسپین ژیری مشران چه د کلنو کلنو راهسې یی د خلکو په منځ کي ځانګړی ځای درلودی ډیرژر بیله کومي جنایي قضیه دجیل او زندان دروازو ته واستول شول،او بیا وروسته کرارکراربیله پو ښتني او محکمي د تل لپاره د ژوندانه د حق څخه هم محروم شول. دغه مشران بیله دي چه دنوی انقلابی رژیم په اړه څه ووایی د اخوان المسلمین او مر تجعینو په نامه دخپلي علاقي دګوندیانوپه سپا رښتنه متهم او پړ وګڼل شول.ځینی مشران او متنفذین دمرګ له ویری د هیوادنه وتښتیدل او دګاونډی هیوادو پاکستان او ایران پر لور روانشول، او هلته دنوي رژیم پرضد دنورو مخالفو مرورو افغانانو سره یوځای شول او دنوی رژیم د چټک غبرګون اود هغه په له منځه وړلوکي ټینګ ودریدل او خپلی هڅي یی نوری هم ګړندی کړي.

شمالي ګاونډی شوروی اتحاد ددي کړ کیچنې وضعې څخه هم ګټه پورته کړه او ډیر ژر یی نوی سیاسی نظام په رسمیت و پیژاندی. شوروی اتحاد د خپلو ستراتیژکو هدفو لپاره د نوی نظام سره ددوستي او همکارۍ نوی تړون لاس لیک کړي او ځان يي په سیمه کې د تودو اوبو د رسولو لپاره د افغا نانو تر ټولوخواخوږ.ی اونژدی دوست اوملګری وګڼي.شوروی اتحاد دنوی رژیم په موافقه د فوځی مرستی لپاره ځانګړي پروتوکول امضآ کړي او دهوای او ځمکنی قواووسره دنوی انقلابی حکومت سره د مرستي هوډ

او ملاتړ اعلان شو.ددوستي او ښه ګاونډیتوب اړیکي د ستراتیژیک تړون پر بنسټ د فو ځې مداخلي لاري هواری کړی. شوروی اتحادپه ډیری چټکي سره د افغانستان د سیاسی حرم هوا اوځمکه ترخپلی اغیزې لاندی راووسته او په زرګونوشوروی فوځی سپاهیانو د هوایی اوځمکنې قواوو درنو وسلو په ملتیاسره د هیواد په دننه کی بشپړ کنترول په لاس کي واخیستی اود افغانستان د سیاست نظامی او سیاسي اصلې ډګرته یی ور ودانګل.

له بلی خواه پاکستان د امریکي او غربی هیوادونو په مرسته افغانی اسلامی بنسټ پاله ډله چه لا وختی پاکستان ته ورغلی وو ، ډیر ژر په عصری پر مختللو وسلو او مهماتو سمبال کړه او دنوی افغانی نظام پرضد یی را و پارول. دلته دامریکا او شوروی اتحاد یعنی د امپریالیزم او سوسیالیزم تر منځ د ساړه جنګ بد مرغه سړه جګړه دافغا نانو په منځ کي شروع شوه.افغان د افغان په مقا بل کي په جګړو کي را ښکیل شو او ګټه یی یواځي بیګانوو خارجیانو ته رسیدله. امریکا د کاله څلورسوه اتیا (۴ ۸۰) میلیونه ډالره ځانګړی پانګه د افغانی مجاهدینو په نا مه د کنګرس لخواه منظوره کړه او د پاکستان د حکومت له لاری یي افغانی مجا هدینو ته ورکړه تر څو دجنګ ډګر تود وساتی. امریکا د افغانی مجا هدینو سره د مرستی لاس داسی ور اوږدکړی چه ګواکي هلته په افغانستان کي اسلام په خطر کی دئ او امریکا یان غواړی چه اسلام ددی خطرڅخه وژغوری او افغانان به داسلامی خطر څخه خلاص او نیک مرغی کړي.

د امپریالیزم او سوسیا لیزم سړو جګړو دا فغانانو پلارنی ټا توبی دړی وړی کړي او په زر ګونه افغا نان د دواړو خواوو څخه ددي جګړی په وجه دمرګ کندی ته ولیږدول شول.

لنډه داچه نه امریکا د اسلام د ساتلو لپاره متی را نغښتي وي او نه هم شوروی اتحاد د افغانانو د سو کالي او آرامی لپاره یی هلی ځلی کولی.ولی افغا نان په خپلو منځو کي په سختو جګړو کي یو له بله سره د تن په تن په جګړه کی بوخت شول. وروردورور په مقابل کي اویوقوم دبل قوم اوټبرپه مقابل کي سره وموښتل او ګټه یی پردو ته رسیدله. زمونږ دښمنانوورته کتل اوخوند یی تری اخیستې چه افغانان څنګه یواو بل سره وژني.

شوروی اتحاد د افغا نستان د خلق دديموکراتیک ګوند دغړو په منځکي هم درځ وا چوې.شورویانو د حفیظ الله امین په واسطه نورمحمد ترکی له منځه یووړي او بیا یی ډیر ژرد خپلوعسکرو پواسطه حفیظ الله امین دیوی لویی دسیسی په وجه په مرمیو سوری سوری کړي.کوم وخت چه د امین نظام ړنګ شو ، نو شورویانو بیا ببرک کارمل چه لا وختی یی په نظرکی نیولی وو د تاشکند رادیو له لاری د کابل افغانستان په رادیوکی خپله بیانه اعلان او بروټکاست کړه. شورویانود ټانک او کلاشنیکوپ په زور ببرک کارمل چه پنځه فیصده یی دخلکو ملاتړ د ځان سره نه درلودی د افغا نستان پر خلکو باندی په زوره پاچا کړي .ببرک کارمل د شورویانو دیوی ریښتنې دوست اوملګری په توګه خپله وظیفه په ښه توګه سره سرته ورسوله اوافغانستان یی پرته له شوروی نه د نړی د آزادو هیوادونو په ډله کی نا ممکنه وبالی. او د افغانستان موجودیت یي یواځې او یواځی د شوروی دوستي او همکاری په پالنی پوری مهم عامل او شرط وګڼي.

ببرک کارمل د شورویانو په مشوره د خلقیانوپاته ډله چه د حفیظ الله امین او ترکی په لیکوکي شامل وو. ډیر ټینګ وځپل . یوه برخه یی دپلچرخي جیل ته وا چول او بله برخه یی د لوړو چوکیو څخه لیری کړل او دریمه برخه یی چه محا فظه کاره او دقدرت او چوکی غوښتونکی کسان وو، د کارمل اوملګرو لخواه ددولت په ټیټو او بی صلاحیته تشکیلاتی بستوکي مقررشول.دغه خلقیانو دکارمل په دولت کي نوی چوکي ترلاسه کړی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

دپنځو کالو وروسته شوروی اتحاد د ببرک کارمل دزړی دوستي اوملګرتیا څخه بیزاره شو او دهغه دځای ناستي په لټه کي شو. دا ځکه په دغه وخت کی د بریژنیف واک ختم شوی او خپل ژوند یي هم له لاسه ور کړی وو. ولی دشوروی نوی مشر میخائیل ګربا چیف هم دکارمل ددولت داری دکړونو او دخپلوعسکرو د دزیاتو تلفاتو څخه خو شاله نه ښکاریدي.په دی وخت کي دشوروی نوی رژیم د بازسازی نوی پلانونه هم پکارواچول.
شورویانو د افغانانوله منځه خپل بل وفادار ملګری د«کی. جی. بی.» په مکتب کی روزل شوی اجنټ د افغانستان د خاد او امنیت لوی رئیس داکتر نجیب الله د واک نیولو ته وهڅوي او ډیر ژر یی دولتی واک په شین زورد ببرک کارمل څخه دده له موافقی نه پرته داکتر نجیب ته وسپاري. د ببرک کارمل ډلی شورشونه وکړه ولی ځای یی ونه نیوی.
داکتر نجیب الله هم د روسانو ټول پلانونه د روسي مشاورینو په واسطه عملي کړل اود ټولو دولتی ادارو تشکیل یی د روسانو په مشوره د شوروی اتحاد د اداروپه څیرونومول شول. هغه پخواني اداری تشکیلاتي سیستم له منځه ولاړي. او پر ځای یی د شوروی نظام د تشکیلاتو ادارو دنوو نومونو سره منځ ته راغلي. لنډه داچه روسانوغوښتل چه دداکترنجیب الله په کومک د خپلو عسکرو د وتلو پلان عملی کړي او دا لس کلن ناورین ته دپای ټکي کښیږدی اوهم دارنګه دنجیب رژیم ته خپله فوځي مرسته جاری وساتي.
دشوروی اتحاد د سره فوځ لس کلن تیری د افغانستان پر خاوری باندی ناوړه اغیزه واچولي. شوروی په خپل هیواد کي دننه په اقتصادی ستونځو اخته شو او د افغانستان څخه یی ډیر ژرد وتلو پلان طرحه کړي. شوروی اتحاد د افغانستان څخه وواتي ولې په زرګونه عسکریی په جګړوکي له لاسه ورکړل.د شوروی اتحاد د وتلو وروسته بیا هم افغانی دولت خپل واک له لاسه ورنکړي حکومتی او نظامی اداره یی فعا له وساتله او ددښمن په مقابل کی ځواکمن واک او قدرت شمیرل کیدی.
شورویان ډیرژرد افغانستان څخه ووتل مګرخپلی نظامی اواقتصادی مرستی یی جاری وساتلې.دوي دداکتر نجیب ددولت سره هر ډول مرستو ته غاړه کښیښوده او افغانی فو ځیان یی په ټولو عصری او جنګی وسایلو سمبال کړل، او هم دارنګه د اقتصاد او سوداګری په برخه کی یي هم د خوراکی توکو به میلیونونو ډالرو مرستی وکړلي.
بل طرف ته پاکستان او غربی هیوادونو هم د مجا هدینو سره د ملاتړ اعلان په ډاګه کړی. د افغانانو مجاهدینو مؤقتي اداره چه د پاکستان او امریکا په فوځی او اقتصادی ملاتړ او مرستی سره جوړه شوی وه او هغه وخت په پیښورکی وه. پر افغانستان باندی یی دیوی لویی ستری حملې د چمتوالې پلانونه پیل کړل اودا حملي یی د قبایلی لوی ښار پیښورله لاری د افغانستان د ننګرهار ولایت پرسرحدی بندرتورخم باندی پیل کړلي.
دداکترنجیب فوځی قواوو د مجا هد ینو د مؤ قتی دولت چه د پاکستان او غربی هیوادونوکلک پوره ملاتړ ور سره وو، سخت وځپل او په ځغاسته د ډیرو تلفاتو سره بیرته پاکستان ته ولاړل.ددي جګړی بریالیتوب د داکتر نجیب نظامی ځواک ته نوی روحیه ورکړه او افغانی جنرالان اوفوځیان په مډالونواوستاین لیکونو سره و ستایل شول.
د مجاهدینو مؤ قتی اداره مجبوره شوه چه دیوی بلی لاری د خپلو بادارانو په مشوره د افغانستان پر دولت باندی خپل زور وآزمایی او دداکتر نجیب دولت ژر نسکور کړي.دوي د کابل پر ښار باندی ړانده راکټونه را وغورځول چي په ترڅ کي یی ډیر بیګناه افغانان شهیدان او یا معیوب شول.دداکتر نجیب دولت په افغانستان کي د شوروی اتحاد د سکاټ او لونا راکټونه د پاکستان پرقبایلو سیمو باندی ورحواله کړل، کوم چه مجاهدین پکښي میشت وو. لنډه داچه جګړی نورهم زور واخیستي.
امریکا او غربی هیوادونو د ملګری ملتو له لاری د افغانستان دکښالي د حل لاری ته جوګه شول . ملګری ملتونو او د امنیت شورا د افغانستان په هکله هم ژر خپل فیصله اعلان کړه او« بینان سیوان» یی د خاص استازی په توګه افغانستان ته را ولیږی.
.بینان سیوان دنده ترلاسه کړه چی په پاکستان کي د مجاهدینو د مؤقتی حکومت د غړو سره وګوری او بیا به وروسته د داکتر نجیب د حکومت د غړو سره د مذاکرو او مشرو ناستي جوړي کړي.دواړې خواوې په دي رازی شولې چه د ملګرو ملتونو په چوکاټ کی به یوه څو کسیزه ګډه کمیټه جوړوی او دا کمیټه به په افغانستان کي د قدرت اوواک د انتقال دلیږدونې ټولي چاري پر مخ بوزي او ددواړو خواوو استازی به پکښې شامل وي.«بینان سیوان »اسلام آباد او کابل ته څو ځله سفرونه وکړل او ټولي چاري ډیری ښي پرمخ رواني وي.ولی د داکتر نجیب د حکومت په دننه کي ځینی چارواکي د«بینان سیوان» د پریکړو سره رضایت او موافقت نه درلودله، دوي په ښکاره اوپټه د نجیب د پلانونو خنډ شول. دغي ډلی لمړی په مزارشریف کي د خپل نا رضایت شورشونه جوړ کړل او بیا یی د نجیب ددولت تر ټولو لوړ پوری چارواکی دامنیت اوخاد لوی وزیر داکتریعقوبی په خپل دفتر کي په قتل ورساوی او وروسته یی د مزاری شریف یاغی جګړه مار قوماندان دوستم کابل ته را وغوښتي او دهوای ډګرچارچارپیره دامنیت ټولی چاری یی ددوستم دجنګیالانو ترکنترول لاندی راغلی. داکتر نجیب په خپل کورکي د خپلو ملګرو لخواه تهدید شو او دواک ټولي ستني یی ماتی شوی. د مخابری ټولی اړیکي یی د ټولی نړی سره وښکیدلی او دیوه عادی انسان په توګه د خپلو ملګرو لخواه په خپل کورکي ګروګان اوبندی شو.دداکتر نجیب دولتی او نظامی ټول واک نورد ده سره نه وو.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داکتر نجیب غوښته چي  د افغانستان څخه هند ته وتښتي ولی ددوستم ځواکونه چه لا وختی د هوا ډګر پر شاوخواه راګرځیدلی وو پری  نښودل شو چه مخکي ولاړشی. داکتر نجیب د خپل وروروسره په کابل کي د ملګرو ملتونو دفتر ته سیاسی پناه یووړه او هلته یی ځان تسلیم کړي. د نجیب دوطن ګوندی غړو د ملګرو ملتونو« د بینان سیوان» پلان شنډ کړی او په پاکستان کي د مجاهینو د مؤ قتی اداری سره یي د واک پر سر خبری شروع کړی. لنده داچه مؤ قتی اداره ډیر ژر د حضرت صبغت الله مجددی په مشری کابل ته د واک د اخیستلو لپاره را ستانه شول او مجددی د ګرده افغانستان  د لنډ مهالی حکومت د رئیس په تو ګه وګومارل شو.
د افغانستان ملی فوځ چه پیری پیری یی د افغانستان د خاوری او ځمکنی تمامیت په ساتنه کی یی مهم رول در لودی د جهاد مجا هیدنو ته چه په سرکي یی د اسلامی جمعیت لوی قوماندان احمدشاه مسعود شامل وو په رسمی توګه د ټولو جنګی وسایلوسره ور ته تسلیم  شو.مسعود د افغانستان داسلامی مؤقتی جمهوریت ددفاع وزیر په توګه وګومارل شو او د افغانستان د فوځ دټولو نظامی تجهیزاتو او وسلو کنترول او صلاحیت  وروسپارل شو.دنجیب دوطن ګوند مرکزی کمیتی د سیاسی بیرو غړي او د ملی فوځ افغانی جنرالان د مسعود سره دي موافقی ته ورسیدل چه دوي به واک پریږدی او په مقابل کی به ټول واک اوقدرت د مجاهدینو موقتي حکومت ته ورسپاری. که څوک غواړی د افغانستان څخه ووځي بیله قید او شرطه سیاسي پاسپورتونه به تر لاسه کړي او  هم به ور سره نقدی مرستي ترسره شي. چه دا کار بیا هم د عمل په ډګر کی پلی او عملی شو.
دمجاهیدنو لنډ مهال حکومت چي په خپلو کي سره جوړ نه وو ډیر ژر دواک پرسر سره بی اعتباره او بد ګمانه شول. نوی موًقتی حکومت بیله دي چه د هیواد نوري چاري سرته ورسوی په خپلو منځو کي په  سختوجګړو کي سره را ښکیل شول. دوحدت ګوند،د خلیلی ومحقق او مزاری په مشری،حزب اسلامی د ګلب الدین حکمتیار په مشری ، داسلامی جمعیت ګوند د ربانی او مسعود په مشری، د اتحاد اسلامی ګوند د رسول سیاف په مشری ،دنجات ملی جبهه د صبغت الله مجددی په مشری، محاذ  ملی اسلامی  د ګیلانی په مشری، داسلامی ګوند بله ډله د یونس خالص په مشری، حرکت اسلامی د مولوی محمد نبی په مشری او هم دارنګه د جګړه مال دوستم جنګی ډله د پخوانیو پر چمانو په استازیتوب دجنبش انقلابی په مشری دکابل په زړه کي د جګړی ډګر دومره تود کړی چه هره ورځ په زرګونو بیګناه انسانان ددی خونړیو جګړو قربانی شول. دغه جګړه مارانو ډلو ټپلو د کابل ښار بیخي وران کړي اوپه زرګونو افغانانو خپل خوږ ژوند له لاسه ور کړي. دغه  توپکي ډلی به کله دیوی ډلی سره او کله دبلی ډلي سره جنګیدلی او کله به هم سره جوړی راغلی او دخپلو هدفو لپاره یی ټول ملت تباه کړی. د تعجب خبره خولا داده چي ملګری ملتونه، غربی نړۍ او امریکا په دغو ټولو جنایاتو باندی سترګی پټی کړی وی. او دخپلو پخوانیو ملګروسره یی ددغو جنایاتو، وحشت اوانسان وژنی هیڅ مخنیوی ونه کړی او نه هم دوي دروغي جوړي لاري چاري لټولي.
دغه جګړه مارانو نه یوازی خلک مړه کړل بلکه ددولت ټوله شتمنی یی لوټ او تالار کړل. د افغانستان ددرو سووکلنو ټولي عایداتی سر چیني یي له منځه یووړي چي ښکاره نمونه یی  د جنګلک فابریکه، دحجاری او نجاری فابریکه، د بګرامیو نساجی فابریکه ،د پل چرخی کارخاني او دهیواد نوری په لسګونو ټولی زیرمی او شتمني دوزارتونواوارګ په شمول ټولی لوټ او چور شولی.ددولتي نظامی تجهیزاتو  لویه پانګه د تل لپاره بیخی له منځه ولاړه. او یا و پاکستان ته انتقال شوه. د افغانستان په تیر پنځه زره کلن تاریخ کي هیڅاه دومره خیانت اودرغلی نه ده کړي لکه چه په دغه وخت کي د نجیب پرضد اپورتونستانو ډلواود پاکستان څخه راغلومجاهدینو په لاسونو چوراو چپاول و شوي اوتر ننه پوری دخپل ګران هیواد افغانستان سره ددي خیانت اودرغلی پوښتنه، څیرنه او تحقیق نه دی شوی. او نه هم په دی تور څوک ګرم او ملامت دي.

د یوی معتبری سرچینی په حواله د افغا نستان د حربی وسایطو او تجهیزاتو شمیر د مجاهدینو د راتګ د مخه په لاندی ډول سره ښودل شویدی:
۱- د وسایطو او مهماتو اضافی پرزی د ۵ ملیاردو ډالرو په  ارزښت.
۲-  سپکه سلاح یو میلیون قبضی.
۳- مختلف توپونه او  هاوانونه ( ۶۰۰۰۰۰ ) میله
۴- ټانکونه(  ۲۵۰۰ )عرادی او زرهپوشونه(  ۳۰۰ ) عرادی .
۴- ترانسپورتی عرادی( ۲۹۰۰۰ )
۶- میګ، ښکاری طیاری او  هلیکوپترونه (۴۵۰)فرونده دانی.
۷- دمخابری دستګاوی اود لوژستیک اواستحکام دستګاوی( ۴۸۰۰) دانی.
۸-  دسکاد توغندی دستګاوی ۸ دانی
۹- ریاکتیف راکتونه( ۱۰۰۰۰۰) دانی
۱۰: جنګی مهمات د سل زره ټنو نه زیات
۱۱: دلونا ، اورګان او سکاد راکتونه(  ۱۰ )دستګاوی


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو  همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۲- د طیارود ترمیم فابریکی

دغه وسایل اوتجهیزات چه د افغانستان د ملی شتمني او بیت المال شخصی اوقانونی حق او مال ګڼل کیدی اوس دهغوی جملی څخه یوه یوه زره هم نشته اوټوله دګرانو مجاهیدنو له لاسه ورک اوغایب شول اوتراوسه پوری یی هیچا ددی وسلو او مهیماتوپوښتنه او ګرویژنه نه دی کړی.او نه هم څوک دمحکمی میزته را کښ شوی دي. داسی ګمان کیږی چه د افغانستان د نظامی ټولو وسایطو دوزارتونو دټولو ترانسپورتی وسایطواوټولو فابریکو دلوټولو او غارت ټوله بیه او ارزش د(۱۲۰)دیوسل او شل میلیاردو ډالرو څخه اوړي او دا ملی شتمني او پانګه د افغانانو مجاهدینوپه لاس غلا اوچورچپاول شوه.

دمجاهدینو نوی حکومت ورځ په ورځ خپل اصلیت اوهویت له لاسه ور کاوی. دغه خدای نا ترسه ټولي ډلي ټپلي او ددولت چاړواکی قوماندانان یواځې د کابل پر شاوخواه سره راټول وو.په ولایتونو کي مطلقه انارشی خپره وه. هر ولایت او هره ولسوالی او علاقه داری خپل ځان ته زورواکي ښتن درلودل. پاکستانی جنرالانو او صوبه دارانو دسرحدی ولایتونو په مرکزونوکي په آزاده توګه تک او راتګ کاوی.

پاکستانی جنرالانو خپلو ملګرو ته یی چه د قدرت پر چوکي ناست وو، د افغانستان د ویجاړولو او له منځه وړلو مشوری ور کولې اوزمونږ افغانی ډلی بیا هغه په عملی توګه پلي کولې.عادی خلک ددي خپلسروقوماندانانو څخه دیر ستړی شول اوهیچا ته د دژوندکولو او ژوندی پاتی کیدلودمصئونیت ضمانت نه ښکاریدي.اوټول افغان اولس په ویره او ترس کي د مجاهدینوددولت څخه تر پزی پوری رارسیدلې وو.

دهیواد دولتی دستګاه ړنګه شوه مکتبونه وتړل شول دپولیسو او اردو منظم فوځ له منځه ولاړی د عدلی او قضایی ارګانونو اداره په ټپه ودریدله .ددولت مامورین د معاش او تنخواه څخه محروم شول دتوپک او ماشیندارو واک په ټول هیواد کي جاری شو.دچور،خیانت، ښکنجي اوظلم درجه خپل آخیرنی سرحد ته ورسیده.هیڅوک په خپل کورکي مصئون نه وو.دولت داری او قانونیت له منځه ولاړي او دزورورود وحشت واکمني په ټول افغانستان کی پیل شوه. خلک دمجبوریت په اساس دغټوښارونو څخه وتښتیدل او خپل کورونه اوجایدادونه یی پریښودل.دجګړی د ویراوماتم توره تیاره خپره شوه او هر چاته په خپل شخصی ژوندکي ستونځي او کړاوونه پیداشول.

ددی خرابی وضعی څخه د طالبانو خو ځښت او حرکت ګټه واخیسته او دلمړی ځل لپاره یی د کند هار ولایت دسپین بولدک پرولسوالی حمله وکړه او هغه ولسوالی یی دیر ژر لاسته راوړه، وروسته یی دکندهار ښار او بیا دهرات، فراه، کلات، غزنی او باالاخره دګردو ولایتونو دمرکزونو کنترول په لاس کي واخیستي. د کابل مجا هیدینو د احمد شاه مسعود په مشری ډیر ژر کابل په تیښته خوښی کړي او د پخوانی شوروی اتحاد د تاجکستان خوا ته و خوځیدل. طالبانو د ملا محمد عمر اخند په مشری خپل مرکزی دولت په کابل کي جوړ کیړی او ډیر ژر دطالبانو اسلامی امارت د سعودی عربستان، عربی متحده آماراتو اود پاکستان لخواه په رسمیت سره وپیژندل شول. اوددي دری واړو هیوادونولوی سفارتونه په کابل کی په رسمی توګه پرانستل شول او په کار یی شرع وکړه. طاللبانو د کابل د نیولو وروسته سمدستی د ملګروملتونو د اداری څخه داکتر نجیب الله او دهغه ورورد ارګ ومخ ته د آریانا د چار راهی ته څیرمه په دار وځاړاوي او خپل رسمی واک یی خلکو ته ور ښکاره کړی.

طالبانو دښځو ټول مکتبونه وتړل اوددولتي دستګاه ټولي کارمندانی ښځینه ښوونکی یی پر کور کښینولي او معاشونه یی ور ته حواله کړه ولی د کار حق یی نه در لودی.

د طالبانو نوی حکومت د ټولي نړی د سخت غبرګون سره مخامخ شو او دهری خواه د حقوقو بشرد نه مراعاتولو په تور محکوم شول. اوسامه بن لادن چه دمجاهدینوسره اوږه په اوږه د شوروی اتحاد ضد په جګړه کی جنګیدلی وو. د طالبانوسره یی خپل ملاتړ اعلان کړی او د القاعدی په نامه دیوی نړیوالې ځواکمني ډلی په نوم دامریکی او غربیانو پر ضد خپل شتون اعلان کړی اود طالبانو ومرستی ته یی لاسونه وروغزول.

امریکایانو د بن لادن د ډلی ټپلی د ځپلو هوډ وکړی او د طالبانو څخه یي وغوښتل چه هغوي بن لادن ددوی په لاس ژوند ور وسپاری. ولي دامریکا یانو دا غوښتنه طالبانو ونه منله او امریکا خپل هوایی ځواکونه ته هدایت ورکړی چي د بن لادن د استوګنی ّځای بمباردکړی. آمریکای هوایی ځواکونو دتوری بوری چه غالب ګومان د بن لادن د استوګنځی ځای بلل کیدی بمبارد کړی ولی بن لادن په نښه نشو او روغ رمټ ژوندی ځنی ولاړي. خو امریکا بیاهم طالبانو ته د رسمیت پیژندنی په مقابل کی د بن لادن د سپارښتنی بلنه وکړه ولی طالبانو بیا هم دغه بلنه ردکړه او نه یی و منله.

د ۲۰۰۱ میلادی کال دسپتبر په ۱۱ نیټه دامریکا دنیویارک دلوی ښار تجارتی لوړ مر کزونه د امریکایانو په خبره د القاعدی په دستور ونړیدل اودخاورو سره برابر شول.په دغه پیښه کی څه باندی دری زره کسانو خپل خوږ ژوند له لاسه ور کړی.او القاعده ددي تروریستي پیښي پړاو ملامت وګڼل شول.امریکا ډیرژرخپل غبرګون ښکاره کړي اود غچ اخیستلو لپاره یی و طالبانو ته د بن لادن دسپارلو غوښتنه وکړه. ولی طالبانو بیا ونه منل او اوساما بن لا دن یی امریکا ته ونه سپاری.او دهغه دملاتړنه یی لاس وا نه خیستی.

امریکا د ملګرو ملتونو او دخپلو غربی متحدینوپه مرسته پر افغانستان باندی د شمالی ټلوالې په موافقه خپل یرغل چه هغه وخت هغوي هم خپل رهبر او وتلی قوماندان احمد شاه مسعود له لاسه ور کړی وو. او په افغانستان کي د



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

طالبانو دویری لخواه تاجکستان ته تښتیدلی وو. شمالی ټلوالي بیله چون اوچرا په ورین تندی پر افغانستان باندی د امریکایی یرغل ملاتړ په ډاګه اعلان کړي او دهغوي سره یی د هر ډول همکاری ژمنه هم وکړه. ولی شمالی ټلوالي دامریکا یانو سره په ګډه د طالبانو دغورځولو لپاره خپلی هڅی ونه سپمولی. امریکا او غربی هیوادونو د ناټو په مرسته پر افغانستان باندی یرغل پیل کړي او دیو میا شتی په موده کي د طالبانو حکومت ړنګ شو او طالبان د کابل څخه ووتل او پاکستان ته ستانه شول. امریکا یانو دقدرت او واک د ډکولو په منظور دبُن د کنفرانس دادایریدو هڅي ګړندی کړی. دبُن د کنفرانس د پریکړی په اساس حامد کرزی چه په خپله یی د بُن په کنفرانس کي ګډون نه در لودی د یوی مؤقتی عبوری دوری په توګه د کنفرانس دغړو لخواه د افغانستان د مؤقتی اداری رئیس په توګه وګومارل شو. کرزی ډیر ژرخپله کابینه جوړه کړه او دشمالی ټلوالی ډلی د کابینی په تشکیل او موجودیت کی تر ټولو زیاته برخه واخیستله. امریکا د غرب څخه هم خپل ملاتړي تحصیل یافته بیروکراته افغانان د کرزی په انتقالی حکومت کی ورګډ کړل چي تر اوسه پوری په غټو دولتی چوکیو کي وزیران او یا مشاورین دي.حامد کرزی تر نن ورځی پوری دوه واره د ریاست جمهوری په انتخاباتوکی بریالی راووتي او د افغانستان انتخابی رسمي جمهور رئیس بلل کیږی.دکرزی دوره په ۲۰۱۴ م. د کال کي پای ته رسیږی.

یادونه:

ګرانولوستونکو: ددغه مقالی بیان زما د خپل ژوند د سترګو لیدلی حال دی. چه ما خپله څه اوریدلی دی او یا می څه لیدلی دی. دهیڅ کومی سرچینه څخه می استفاده نه دی کړی پرته د جنګی تجهیزاتو اومهماتو دشمیر نه ،په دی مقاله کي ما په خپله کوښښ کړی دی چه خپل شخصی نظر څرګند کړم او تاسو درنو لوستونکوته یی وړاندی کړم.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ